پوهندوي آصف بهاند

۲۰۱۴/۰۱/۱۳

# شین پسرلی
# (داستاد صدیق پسرلي مړینه)

ما ته د خپل ژوند په اوږدو کې یو وار د استاد صدیق پسرلي د لیدلو ویاړ را په برخه شوی دی، هغه هم په دې ډول:
په کابل کې د تنظیمي ایله جاریانو په راتګ سره داسي غوبل جوړ شو چې په تاریخ کې به یې ساری یا هیڅ نه وي او یا به ډیر لږ تیر شوی وي. هرڅه په سره اور بدل شول. زه هم د خپل کور، کلي او هرڅه پریښودو ته اړ شوم.
د وروستي ځل له پاره مې د استاد دوست شینواري د جنازې په مراسمو کې ګڼ شمیر فرهنګیان ولیدل. د افغانستان د علومو اکادیمی غړي، د پوهنتون استادان، ژورنالستان، لیکوالان، شاعران او. . .
ټولو یو د بل په تندیو او سترګو کې د یأس او نا امیدی کربښي لوستلې. یو بل ته مو سره کتل او هر چا د مقابل لوري په تندي کې د رحمان بابا دا بیت لوسته:

**پـــه سـبـب د ظــالــما نو حـاکمانــو**
**کور وګورو پیښور دري واړه یو دي**

د ټولو له پټو خولو او کتلو نه په یو پیام باندي سری پوهیده چې: کابل خو ګور شو، منده تر پیښوره ده، که هغه هم ګور شي نو. . . د ټولو مراووکتو له یو بل نه پوښتنه کوله چې: بیا به سره وګورو که نه او که به هر چا ته خپل کور ګور شي او یا به د بل کوم ملک بندیوان شواو. . .
هیڅ کله به مې هیرنه شي چې دا وخت کابل او کابلیان د تنظیم واکی او ټوپکسالاری په وحشت او سره اورکي نیني نیني وو. زه له کابل نه، له اور اخیستي کابل نه، له سوي سکاره کابل نه، له خپلې ځالي نه چې خاورین د یالونه یې او ډبرین د یوالو نه یې د وحشت اور لګه د « کلوخکي » لوټي په سره انګار بدل کړي وو؛ د پیښور په لوري روان شوم. د۱۳۷۲ ل کال د ثور په یو دیرشمه نیټه پیښور ته ورسیدم او دلومړي ځل له پاره مې د مهاجرت مزه وڅکله.
په پیښور کې زما شخصي او فرهنګي دوستانو د ځای ځایګي او بهرته د تګ د اسناد‌و د جوړولو د مرستي په ترڅ ځیني ځایونه او اشخاص هم راوښودل چې د دوو په لیدلو مې ځان ډیر خوشاله او نیکمرغه احساس کړ. یو د پښتو ژبي د ستر مفکر او عارف رحمان بابا زیارت ته ورتګ و او بل د استاد صدیق پسرلی لیدل و.
سره له دې چې په وطن کې روانو حالاتو، د مهاجرت چاپیریال، بې سرنوشتي او نامالومي راتلونکي زما وجود، ذهن او ضمیر لکه د لړم نیش هره شیبه چیچه، خو کله کله به داسي څه یا ښوک او حالت سره مخ شوم چې بیا به مې د امید نری باد د زړه او ذهن په کرونده کې راولوت.
یوه ورځ چې د ویزې او اسنادو له کارونو یو څه بېغمه شوو، نو انځور صاحب را ته وویل:
راځه چې نن پسرلی صاحب وګورو. ما هم وویل درځه.
د پیښور کنه ګونه، څه پسي څه. چې یو وار انځور صاحب ووي: آصف ګله دا سیمه « نوته » نومیږي، پسرلی صاحب دلته اوسیږي. دې کې یې یوې داسي ځای طته ور سیخ کړم چې پخه کانکریټی کوڅه وه او په منځ کې نری ویاله غځیدلې وه. یوې دروازې ته ورسیدو، کله چې کورته ور ننوتو، ومې لیدل چې یوه ډنګر بنده بوغبندته شاور کړې وه او ځنګونه یې په نس پوري داسي نښلولي وو، چې ته وا نور به جدا نه شي.
زه د وطن حالاتو داسي چیچلی وم چې زیرزبیښلی وم. کله یې چې ورو پیژندلم سری ورو راجګ شو، روغبړیې را سره وکړ. کیناستو، له یوڅو پوښتنو او خبرو وروسته چې استاد خبرې پیل کړې، نو زما پر ذهن، ضمیراو بدن باندې بل کړای شوی اوراوزیرمنی یې به پسرلي باندې بدل کړ. سرې په رښتیا پسرلی و، او د علم او هنر داسي خزانه چې زما د ذهن په مراوې کرونده کې یې هیلي او ګلان راوغوړول. دا خزانه او د علم او هنر یو نه تمامیدونکی ګنج،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

صديق پسرلی و او لکه د افغانستان تر خاورو لاندې خزانې، د پېښور په « نوته » کې په يوه زړه کوډله کې پروت و.
په هغې ورځې مو ښې مرکې وکړې، ما په زړه کې اچولي وو چې بيا کله سره ګورو، خو حالات داسې راغلل چې مور. لکه وچه پاڼه بادونو پسې واخستو چيرته لرې يې په يو بل پردي وطن کې ورغوزارکړواو...
استاد صديق پسرلی په پښتو ادب او شاعرۍ، په ځانګړي ډول غزل کې وروسته له استاد حمزه شينواري نه، د پښتو غزل يو منل شوی او حقداره استاد دی، او ددې ښه ګواهي دده خپاره شوي آثار دي.
مرګ حق دی، د خدای رضا ده او د ټولو لار، استاد صديق پسرلی هم په خپل وار پردې لارې باندې روان شو؛ خو له ځان نه يې ډير څه پريښودل. ښايي ده د فرهنګ په ډګر کې ټول هغه څه چې غوښتل، نه يې وي کړي، خو زما په عقيده چې ډيره ډيره سلنه يې تر سره کړل.
صديق پسرلی لاړ، خو له ځانه يې ډير څه په ميراث پريښودل. داسې ميراث چې نه يوازې کورنۍ او افغانان به ور باندې وياړي، بلکې د بشريت د بډای فرهنګ لويه برخه به هم ور باندې فخر کوي.
صديق پسرلی د غزني د قره باغ نه، د کندز د خان آباد نه، بلکې د ټول افغانستان شين بڼ او تاند پسرلی دی او لکه ځان غوندې يې شين، ښيرازه او با ثمره بڼ پريښود.
دی لاړ، خو ده له ځان نه، ځان غوندې شين پسرلی پريښود، داسې بڼ يې پريښود چې شنې با ثمره ونې په کې ولاړې دي، دده آثار او دده عالمه کورنۍ، د پسرلي راپاتې هرڅه شنه دي، باغونه دي او پسرلي دي، دده افکار او آثار د خلکو د فکرونو کروندې شنې کړي او شنې کوي يې پسې.
د پسرلی د شخصيت،آ ثارو او افکارو د تشريح له پاره ويناوې، خبرې، شعرونه، مقالې بسنه نه کوي پرده باندې به کتاب نه، بلکې کتابونه وليکل شي.
استاد صديق پسرلی به تل شين پسرلی وي دده آثار او افکار د يوې شنې کروندې او شنه پسرلي حيثيت لري او دده په جوړ کړي شنه بڼ او با ثمره ونو نه به تل خلک د خوند او رنګ استفاده کوي.
زه د اوس له پاره دده آثارو ته لاس رسی نه لرم چې څه پرې ووايم، خو د خپل ذهن او کور په آرشيف کې مې سمدلاسه دده دغه دوه شعرونه پيدا کړای شول چې دلته به يې دده د کلام د نمونې په ډول وړاندې کړم:

آشنـــا راځـــه، فرصـــت در ســـره پلی راولـــه
پسرلـــی د نيکمـــرغۍ تـــرلاس نيـــولی راولـــه
څادروربانديې خپور کړه، له ميناسره کړه پام
شيخان ګرځـــي، محـــفل ته ساقي غلی راولـه

د نـــويـــوخـــوشـــاليو وړکـــه نه يونوخـــاونده
پـــه تيـــرو بهـــارونـــو کـــې يـــو ښکلی راوله
يـــا مـــا درســـره بـــوزه شنـــو لمنوته سپرلـــيه
يـــا بـــوی د شنـــو شـــوتلو نښتيځـــلی راولـــه

*****************
*****************

وښوسرنه هسک کړل، ښايي بيا راځي بهار
چـــې بيابـــه مرور وي، که پخلا راځي بهـار
نـه کـډې ورليښلې، نه چاتيږه منځ کې ايښې
لـمـنو تـه بـه څـه رنـګه تتها راځـــي بـهـــار

چـــاووې چـــې ســـږهـــم، دماينونولـــه شامته
د وريځـــو پـــه ډولۍ کې يک تنهاراځي بهار
څه سا به يې شي جوړه دباروتوپه لوګي کې
مجبـــوردی د مـــوسم په تقاضا راځـــي بهـــار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دزخـــم تبســـم وي تـرجمـــان د سويوڅړيـــکو
زمـــوږ وطن ته ځکه، په موسکا راځي بهار
راتلل يې ښايي بيا هم دحسرت دوړې را پريږدي
نه موږ ورپسې تلای شو،نه په شا راځي بهار

دهيلـــوشـــګوفې چې وي ديـــأس ږلی وهلې
راځي خوزموږخواته، نيمه خوا راځي بـــهار
په زړه باندې مې ګرځی، په راتلوېې خبر نشم
دا څـــوکلونـــه هرځلـــې په غـــلا راځـــي بهار

پسرليه زه يې څه کړم چې وطن د ښاپيرو ته
رعنـــا راځـــي بـــهاراو که زيـبا راځي بـــهار

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ